مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی

۲۰۱۸/۱۱/۲۳

# غزل

جنګ دي شي ورک د جنګ عنوان دې ورک شي
د تورتمونو تور دوران دې ورک شي

بلبل د ګل سره یاري نه کوي
بې میني داسي ګلستان دې ورک شي

لکه بې ځاله مرغۍ ستړی شومه
د بې رهبرو دا کاروان دې ورک شي

د ساقي اوښکو نه جامونه ډک شول
چي اوښکي څښي داسي رندان دې ورک شي

وحشت د ژوند لارې تړلي دي بیا
د سولې زما دغه ارمان دې ورک شي

د میني شور اوس پسرلي! کې نشته
د بې وسۍ اه او فغان دې ورک شي

مصطفی پسرلی
18/09/2018



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ